# چین اویغور مسلمانان مجبوروي ترڅو د اسلام پر ځای چینایي فرهنګ ومني




د چین دولت په ختیځه اسلامي خاوره سینکیانګ کې د مسلمانانو یرغمل نیولو ته ادامه ورکوي. په دې وروستیو کې د بي بي سي د سپوږمکیو څېړنو موندلې وه چې د چین په ختیځ کې لسګونه اډې جوړې شوې، چې چین یې د زده کړو او ښوونو مرکزونه بولي؛ خو زندانونو ته ورته داسې ځایونه دي، چې په اړه یې څوک معلومات نه لري. د چین دولت یو میلیون اویغور مسلمانان له هر راز تورنېدو او محاکمې پرته دغو مرکزونو ته وړي او د اسلام پر ځای یې تر چینایي فکري، فرهنګي او کمونېستي زده کړو لاندې نیولي دي.

چین تر دې وروستیو د دغو مسلمانانو له نیولو انکار کاوه او رسنیو ته به یې د هغو پخو عمر لرونکو کسانو ټولګي ورښودل چې ظاهراً به یې په خپله خوښه په دغو مرکزونو کې د ګډون ادعا کوله. خو تازه یې د یوه نوي قانون په تصویب دا اډې قانوني اعلان کړې او د اسلامي افراطیت په پلمه یې د اویغور مسلمانانو پر ځپلو تاکید وکړ. په داسې حال کې چې د چین دولت یاد اویغور مسلمانان د زده کړو په پلمه مجبوروي، ترڅو د تل لپاره له اسلام او اسلامي عقایدو تېر شي. علناً شراب او د خوګ غوښې وخوري. علما او ملا امامان یې د چین د فرهنګ له مخې ګډا او ډانسونه ترسره کړي. هغوی ته د دې خبرداری ورکول کېده؛ که دا کار ونه کړي نو په دغو اډو کې به زنداني کېږي.

د ختیځ ترکستان له مسلمانانو څخه د جوړو شوو «عقیدتي بیا ښوونې» مرکزونو شمېر په چټکۍ مخ پر زیاتېدو دی. د چین حکومت اسلامي عقاید، اسلامي احکام لکه لمونځ کول، روژه نېول او حجاب مراعتول او همداراز ږېره درلودل افراطي عقاید، کړنې او جامې بولي. پر دې سربېره په دغه مسلمان مېشته سیمه کې ټول جوماتونه په دقیق ډول څارل کېږي، ترڅو مسلمانان په زور اړ کړي چې د چین د کمونېست ګوند شعارونه ورکړي او د دوی په اند د سختدریځۍ ضد قوانین ومني.

د دغو زندانو په مخ کې هره ورځ سلګونه کسان انتظار باسي، ترڅو د خپلو کورنیو له نیول شوو غړو سره وګوري. خو د چین حکومت ژورنالېستانو ته له دغو کسانو سره د خبرو، مرکزونو ته د ورتګ او عکاسۍ اجازه نه ورکوي. تېر کال هم داسې رپوټونه خپاره شوي وو، چې چین هغو کسانو ته چې ږیره لرونکي هلکان یا باحجابه ښځې پولیسو ته معرفي کړي، ۲۰۰۰ یوان چې ۲۷۵ یورو کېږي، مالي اجوره ورکوي؛ ترڅو د مسلمانانو د عباداتو، ږیرو، حجاب او نورو معاملاتو په اړه حکومت ته خبر ورکړي.

د اویغور مسلمانانو پر وړاندې د چین دولت د ظلمونو لړۍ تر هغه پخوانۍ ده، چې دغه سیمه د خلافت دولت له واکمنۍ څخه ووتله. تېر کال هم چیني چارواکو په سینکیانګ سیمه کې د قرآن کریم او جاینمازونو او ټولو هغو څیزونو چې په دیني چارو پورې تړاو لري د ټولولو امر ورکړی و او مخالفین یې د مخالفت په صورت کې پر سختو سزاګانو ګواښلي وو.

له مسلمانانو سره د چین دولت له دا ډول معاملې سره-سره زموږ په هېواد کې هغه چارواکي چې پخوا یې د شوروي اتحاد ګوډاګیتوب کړی و او یو شمېر نور چې اوس د امریکا او ناټو ګوډاګیتوب کوي، له دې حیا نه لري چې په راتلونکي کې د چین اخلاصمن لاسپوڅي شي او هر وخت له چین څخه د سولې، د معدنونو په استخراج، د امنیتي ځواکونو په تربیه او تمویل او فرهنګي راکړې ورکړې باندې ټینګار کوي. په داسې حال کې چې چینایي دولت له اسلامي امت سره بالفعل خونړۍ جګړه روانه کړې ده او زموږ د عقیدې وروڼه یې له سختو ستونزو سره مخ کړي دي.

**خالد ایثار**